# مطبوعاتي خبرپاڼه

د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداره

مرکزي دفتر، شاه محمود غازي واټ، کابل افغانستان

## د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداره مدني ټولنو ته په افغانستان کې د اداري فساد پر خلاف د مبارزې لپاره کوچنۍ مرستې ورکوي

۲۳ اکتوبر ۲۰۰۸، کابل

نن، د ملګرو ملتونو پرمختيايي ادارې د مدني ټولنې له درې مؤسسو سره د اداري فساد پر خلاف د دوی د فعاليتونو د ملاتړ لپاره د مرستې تړونونه لاسليک کړل. هره مؤسسه به د خپلو پروژو د پلي کولو لپاره تر ۵۰.۰۰۰ ډالرو پورې وړيا مرستې ترلاسه کړي. دغه مرستې د ملګرو ملتونو د پرمختيايي ادارې د احتساب او روڼتيا د پروژې د کوچنيو مرستو د څانګې له لارې ورکول کېږي.

د تړونونو د لاسليک کولو په مراسمو کې د خبرو پر مهال د ملګرو ملتونو د پرمختيايي ادارې رييس ښاغلي منوج بسنيات وويل " دا کار د ادري فساد پر خلاف مبارزه کې د مدني ټولنې او رسنيو د فعالې ونډې د هڅولو لپاره ترسره کېږي. دا د ملګرو ملتونو د پرمختيايي ادارې د احتساب او روڼتيا د مرستې د څانګې له جوړېدو راهيسې لومړنۍ مرستې دي چې ورکول کېږي"



IACD، **IWA** او د سبا نشراتي مؤسسې مرستې ترلاسه کړې. دوی به د څارنې او خدماتو وړاندې کولو، د مدني ټولنو د پوهاوي او ظرفيت لوړولو، رسنيو او معلوماتو ته د لاسرسي د ښه کيدو او د ادراي فساد ضد او د ښو کاري اخلاقو د ترويجولو په ساحو کې کار کوي.

د کوچنيو مرستو څانګه غواړي چې د روڼتيا پلوه او امانتداري اړوندو فعاليتونو کې د مدني ټولنې د ونډې د زياتولو له لارې د دولتي سيکتور د اداري فساد ضد فعاليتونو ملاتړ وکړي او په ځانګړې توګه له هغو پروژو سره مرسته کوي چې  د احتساب او روڼتيا د پياوړتيا پر مهمو ساحو تمرکز کوي.

د کوچنيو مرستو څانګه د احتساب او روڼتيا د پروژې يوه مهمه برخه ده چې له مدني ټولنې او رسنيو سره مرسته کوي چې د احتساب او روڼتيا د ودې لپاره فعال نقش ولوبوي. دغه پروژه د اداري فساد د پيچليو مسايلو په اړه د پراخه عامه پوهاوي او زده کړې د نوښتونو د پلي کيدو د اسانه کولو او په دې بهير کې د مدني ټولنې د فعالانو او د مفکرينو د ټولنو د برخه اخيستنې د زياتوالي لپاره کار کوي.

دملګرو ملتونو د پرمختيايي ادارې داحتساب او روڼتيا پروژه د دې لپاره جوړه شوې چې له افغان دولت سره د اداري فساد پر خلاف د مبارزې د پراخې تګلارې په جوړولو، په مهمو دولتي ادارو کې د ازميښتي پروګرامونو د پلي کولو له لارې د اداري فساد ضد ستراتيژيکو پاليسيو لپاره د بنسټ د کېښودو  او د تشخيصي پلټنو او څېړنو په ګډون د اداري فساد د څارنې د سيستم په جوړولو کې مرسته وکړي. دغه پروژه همدارنګه د اداري فساد په اړه د ولسي خلکو او د دولتي کارکوونکو د پوهاوي او خبرونې لپاره کار کوي.

د لازياتو معلوماتو لپاره له سيد اکرام افضلي، د ملګرو ملتونو د پرمختيايي ادارې د احتساب او روڼتيا په پروژه کې د پروژې د متخصص سره د ikram.afzali@undp.org يا ۶۴۵ ۲۶۶ ۰۷۰۰ او يا له فضه حسيني، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختيايي ادارې د رسنيو له مسؤولې، سره د (fezeh.hosseine@undp.org) او يا ۷۱۴ ۴۷۵ ۰۷۰۰ (۹۳+) له لارې اړيکه ټينګه کړئ.